آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۱/۰۱

# لارورکي لارویان

## نهمه برخه

## د پېښور حالات

### څنګه شادګل شوم :

د ۱۳۷۲هجري شمسي کال د ثور په ۳۱ (د ۱۹۹۳ کال د می یوویشتمه) نیټه زه د خپلې کورنۍ له نهو تنو غړو سره د مرګ له کومې نه د خلاصیدو په خاطر، پېښور ته په مهاجرت اړ وتلو. تودوخه لکه جګړه ورځ تر بلې زیاتیده. د جګړې د اور د زغملو زور مو نور نه درلود. ځانونه مو د جلال آباد هډې ته و رسول، په هده کې ښه ګڼه ګونه وه. ورېندار، درې ورېرونه، ځلور مې خپل بچیان، میرمن مې او زه چې ټول لس تنه کېدو، په یوه مینې بوس کې کیناستو او د لارورکو لارویانو په لیکه پسې ور روان شوو.

دا لومړی ځل و چې زړه مې په کور، کلي او کابل پسې داسې خوږیده، لکه زوی چې له مور نه د تل له پاره جلا کیږي.
زما پسرلی زوی د غیږې ماشوم و، دی مې په غیږې کې نیولی و او نورمې هیڅ شي ته پام نه و، یوازې مې د موټرله کړکۍ نه د باندې د کابل د ټوټې واټونو، زخمي دیوالونو، ایره شویو ودانیو او پرې ونو ننداره کوله. پر مخ مې مرې اوښکې را رواني وې. میرمن مې راته ویل:
«ځان لږ استواره کړه، پرته له دې بله چاره نه شته.»
د همدې اوښکو او حسرتونو په درياب کې ډوب وم، چې د پلچرخي له سیمې په تیریدو شوو. نور نو ډاډه شوم چې خپل زیږنتون، د کابل مور جاني له غیږې او لمنې نه په لرې کیدو یم.
وطن ودان و، وطن وران شو، په ورانولو کې یې ټولې ککړې خواوې په هسکه غاړه وايي:
مور خو هیڅ نه دي کړي، مور خو د خدمت له پاره راغلي یوو او...
د دوی د نورو خدمتون وت رڅنګ یو هم د دوی د رهبرانو د راتګ په وخت، د دوی له خوا شادیانه ډزې وې. په دې ډزوو کې په سلګونه بیوزلي افغانان یا وژل شوي یا ټپیان شوي دي. زموږ کلي کور ته د جګړې ناوې راغلې؛ خو خلک نه پوهیږي چې زموږ وطن ته د جګړې دا راوړل شوې، سینګار کړای شوې ناوې ځنازه به کله زموږ له کور او کلي اوچتیږي؛ چې له خپلې ځنازې مخکې یې د لسګونو زرو افغانو د ځنازو امامت وکړ.
اوس موږ د خپل کلي کور پرېښودلو ته اړ کړای شوي وو، او د بېداد له ښار نه د ظلم آباد ښار ته روان وو. د ویر په وزرو سپور، د پېښور په تمه د جلال آباد په لورې رون وو. په لاره کې مې بچیانو او ورېرونو رنګارنګ پوښتنې کولې:
ولې جنګ دی؟
کله خلاصیږي؟
دا جنګ څوک کوي؟
موږ چیرې روان یو؟
او...؟
ما د دوی پوښتنو ته سم او د قناعت وړ ځوابونه نه شوای ورکولای، هسې مې تیر ایستل.
د پوښتنو لړۍ نوره ځکه اوږده شوه چې په لاره کې کوچنیانو ته هر څه نوي وو.
څه د وطن غم، څه د کوچنیانو پر له پسې لاځوابه پوښتنو او څه هم په مخکې بې سرنوشته د مهاجرت ژوند، په چرتونو کې ډوب کړی وم. په همدې کې جلال آباد ته ورسیدو.
زموږ کوچنیان د مشرقي له ګرمۍ سره بلد نه وو، ځکه یې ډوډۍ دومره و نه خوړه. له ډوډۍ وروسته مو د پېښور لار ونیوه. له تورخم نه پرته له کومې پوښتنې او پېښې تیر شوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي زه ژنۍ وم، پېښور ما ته يو ايډيال ښار و او تل به مي ځُرت واهه چي کله به زه خپل دا ايډيال ښار وګورم. دا هوس مي په زړه کي پاتي و؛ خو دا دی د پېښور د تللو او ليدلو وخت راغی؛ مګر اوس مي نه زړه ورځي او نه پښې.

زما ايډيال ښار اوس زما د کور او کلي، زما دښار او وطن د ورانېدو او بربادۍ د قوماندې په مرکز بدل شوی. ټولو وطن دښمنو رهبرانو، خان، وجدان، دين او ايمان خرڅ کړ، دي اسلام پلورونکو، له اسلام نه يوه وسيله جوړه کړه، ځانونه يې له پردېو، هغو پرديو سره يو ځای کړل چي تل په سنګرکي، په کمين کي زموږ د خلکو او وطن د بربادولو په خاطر ناست وو. د هغو غلامي ته يې غاړه کېښوده. هغه ډول چي دښمنانو غراوه او غړوي يې، دوی خرپنده ځني ورته اړولي او تر اوسه يې ورته اړوي.

د ټوپکيانو مشرانو په همدې پېښور کي ډېره اچولي وه او د خپلو بادارانو د خوش خدمتۍ له پاره يې له هيڅ شي نه مخ نه اړاوه. که به بادار ورته ويل چي د پلاني کلي مکتب وران کړه، ټوپکيانو به دريٍ ځلور ښوونځي ورانول.

د ټوپکيانو دغه ډلي ټپلي دا وخت ټولي په کابل کي لاس په ماشه ناستي وې، د خپلو بادارانو د خوشحالولو له پاره يې تر پخوا لا زيات څه تر سره کول.

پخوا به که کابل ته پنځه يا لس راکټونه راتله، د تنظيمی حاکميت په پيل ـ چي موږ په سرو سترګو ور نه روان شوو ـ هر تنظيم به پنځوس راکټه د کابل زخمي ډېو ته ډالی کول. ما په خپلو سترګو ليدلي هره ورځ به د آسمايي غره په ډېره ت رشلو، ديرشو ډير راکټونه لګېدل. دغه لنډۍ به د کوم دردېدلي پښتون يا پښتني له خولې، د همدې راکټونو له ننداري نه وروسته وتلې وي:

کابل يې وران کړوران يې مه وای
لاس دي يې مات شي چا چي ويشتي راکټونه

دا کو م ظا لم راکټ ر ا ليـــږي
د آسمـــا يي لـــه ډ ډ و و ختـــل دود و نـــه

هلته پېښور کي هيڅ شی د افغانانو په طبع برابر نه و، هر څه د پاکستان د آی اس آی تر نظارت لاندي وو، هر څه همدوی کول؛ خو د ټوپکي مشرانو په وجود کي او ټوپکي مشرانو د جهاد؟ او اسلام په نامه په خپلو غيراسلامي او غيرانساني اعمالو وياړ هم کاوه. پېښور ته ورتګ هيڅ کله زما په طبع برابر نه و، زما په خوښه نه و؛ خو زه له نا کامه ورروان وم.

له تورخم نه په تيريدو سره مي د لومړي ځل له پاره د پاکستاني مليشوو ميلمه پالنه وليده. د پاکستاني مليشو يوې پوستي زموږ موټر ودراوه. زه او ميرمن مي د ډريور شا ته په څوکۍ کي ناست وو. پسرلی زوی مي په غيږ کي و. د ډريور د لاس دروازې ته مليشه سلاح په اوږه ودريد او ما ته يې اشاره وکړه چي را ښکته شه. ما فکرو کړچي څه ما څه کوي، ښايي بل چا ته به وايي. بيا يې غږ وکړ:

«تا ته وايم بريتوره، را ښکته شه!»

زه چي د پاکستاني مليشوو له اخلاقو او چلند خبر نه وم، د ښکته کيدو تابيا مي ونيوه چي ښکته شم، نو وروممي ماشوم خپلي ميرمني ته ورکړ. جګ شوم چي ور ښکته شم. ډريور مي لمن ونيوله، پرته له دې چي را ته وګوري، وې ويل:

«کينه!»

زه بيرته کيناستم. بيا چي د مليشه را پام شو، په قهر يې را ته و ويل:

«تا ته وايم بريتوره، را کوز شه!»

پردی ملک او پردی واک و، زه اړوم چي د هغه امر مي په ځای کړی وای. زه چي بيا په جګيدو شوم، ډريور مخ را واړاوه، راته وې ويل:

«کينه ماشوم دي واخله.»

ډريور د مليشوو په اخلاقو بلد و چي پاکستاني مليشه د پنځو يا لسو کلدارو په بدل کي، د خور او مور ښکنځلي هم منلای شي. ډريور لس کلداري له جيب نه وايستلي، مليشه ته يې ورکړي او څو ښکنځلي يې هم ور ډالۍ کړې. ښه مي ور ته کتل چي مليشه د لسګون په خاطر پر غوږو درنه پرده اچولي وه او هيڅ يې نه اوريدل.

دمليشه له ميلمه پالني چي وزګار شوو، ډريور و پوښتلم:

«وطنداره! مخکي له دې کله پېښور ته نه وې راغلي؟»

ما له ساړه اسويلي سره، و ويل:

نه.

ده هم لکه له ځان سره يې چي وايي، و ويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

«ښه بیا نو ملامت نه یې.»
څومره چې په کوټلونو ور ښکته کیدو، ګرمي ډیریده او ماشومانو اوبه غوښتې. لمر په غرغړ و چې موټر ودرید.
ډریور ما ته و ویل:
«وطنداره پېښوردی، ښکته شه!»

## «زه د د وطن د مهاجرو کاروان
## هـم لـه ملا هم لـه الحاد راغلم »

کابل هده کې د لار ورکو لاروېانو ګنه ګونه وه. هر چا نه لورې ورک و. ټولو لکه له وطن او جهانه یتیم شوي، حیران، حیران کتل، نیکمرغه هغه څوک و چې کوم بلدې یې مخې ته راغلی و.
موږ هم په ډیرې نا امیدی له موټر نه ښکته شوو. څو بکسونو کې چې یوازې د تن جامې وې، را ښکته مې کړل.
ټول ماشومان او دوه میرمنې مې لکه رمه چې پنډه شې، د هدې په یوه څنډه کې کینول.
هر څه موږ ته نوي وو. خلک، کره وره، خبرې او...
هر چا هرې خوا ته منډې وهلې. موږ ته نه څوک مخې ته راغلي وو او نه څوک په پېښورکې خبر و چې موږ راځو.
حیران وم څه وکړم. یوازې د تیلیفون یوه شمیره او یوه هم څه ګونګه غونډې پته را سره وه، نور نو د خدای هیله وه او زما نا بلدي.
زما د میرمنې یو ورور چې تحصیل کړی او مدبره سړی و. د خپل زوم پته یې داسې راکړې وه، لکه منان ملګري چې شاد ګل ته د مامور رامداد پته ورکړې وه. پته په شفاهي ډول داسې وه:
«چې څنګه څانونه د پېښور حیات آباد سوپر مارکیټ ته ورسوئ، د ډاکترصدیق پوښتنه وکړئ، پیدا یې کړئ، بس کار جوړ دی او...»
زموږ د کورنۍ ماشومانو د ټوپکي واکداری او ړیرو له برکته، څو پرله پسې میاشتې د برق او تلویزیون له لیدلومحروم پاتې شوي وو، نوټول په یوه دایره کې سره را ټول وو او د سرایدارپه کوټه کې یې د لګیدلي تلویزیون ننداره له بهر نه کوله.
زه لکه شاد ګل پوره ډاډه وم چې اوس به د حیات آباد په سوپر مارکیټ کې ډاکتر صدیق پیدا کوم. د همدې ځرتونو په ټال کې زنګیدم، چې یو شپاړلس ـ اولس کلن افغان زلمی را نږدې شو. سلام یې وکړ. وروسته له ستړي مه شي نه یې پوښتنه را نه وکړه:
«بیادر ده راه خیریت بود؟»
ما ویل:
بلې خیریت بود.
د ده د پوښتنو لړی اوږده شوه، زه اشتباهي غونډې شوم چې د دې زلمي مقصد څه شی دی، څه را نه غواړي. دی را باندې پوه شو، را ته ویل یې:
«بیادر تو دګه فکر نه کني، مه کدام مقصد نه دارم. ما یک میني بوس داریم که ده لین کابل پیشاور رفت و آمد داره، تا حالا نامده از وخاطر پرسان کدم. خو نه ګفتې کجا میرې جای مای داري یانې؟»
ما ته په کابل کې کوم فرهنګي یار د هیوادمل صاحب د تیلیفون نمبر راکړی و، نو هغه مې ور وښود چې که کیدای شي په دې نمبر تماس ونیول شي. زلمی را سره روان شو. په څو دکانونو کې مو پوښتنه وکړه، خو چا له شخصي تیلیفون نه د استفادې اجازه را نه کړه. زه لا د کابل په ټال کې سپور وم چې څه یو وار زنګ وهل به څومره مصرف ولري. په دې خبر نه وم چې یو خوبه له دې مهاجرو نه خلک څومره په تنګ شوي وي او بل خوا دې مهاجرو ته چا د پیاز د پوستکي په سترګه هم نه کتل.
زلمی ښه بلد و، نو سمدلاسه یې «p.c.o» پیدا کړه؛ خو تیلیفون رخ نه شو. وروسته له ډیرو پوښتنو پته ولګیده چې زموږ له راتګ نه یوه اونۍ مخکې د پېښور د تیلفون نومرې له پنځوعدونو نه، شپږو ته اوښتي وې.
د وخت په تیریدو سره څومره چې ماښام را نږدې کیده، زما رنګ هم پسې توریده، چې:
ښه ماد آصفه!
شپه خو که وغواړې او که یې و نه غواړې، را روانه ده، له دې ښځو ماشومانو سره څه کوې، چیرته ځې؟
زلمي چې زما حالت ولید وې پوښتلم:
«دګه کدام آدرس نه داري؟»
ما سمدلاسه ور ته د ډاکترصدیق نوم او آدرس یاد کړ. ده یو موټر کرایه کړ او مخامخ حیات آباد ته لاړوو. کرایه کړی موټر د کوم افغان و. هغه و ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

«وروره ماشومان، ښځي او بکسونه مه ښکته کوه، ته د خپل آدرس پوښتنه وکړه، بیا به ګوروو، که دوی ښکته کړي بیا دې ملیشه په عذابوي. ما لکه شادګل له لارویانو پوښتنه کوله:
وروره!
ډاکتر صدیق نه پیژني؟
هغوی به ښکته پورته را ته کتل، چا به د نه ځواب راکړ او څوک به دغسې را نه روان شول. بیا مې د ډاکترانو څو معاینه خانو ته سر وربښکاره کړ؛ خو ټولو راته د نه ځواب راکاوه. هماغلته وو چې په ځان پوه شوم چې له شادګل نه مې هم قدم وړاندې ایښی دی.
د ډاکتر صدیق د نه پیدا کیدو په وجه زه بیخي وار خطا شوم. زلمي چې بیا زما الوتي رنګ او وچو شونډو ته وکتل، وې ویل:
«بیا بیادر جان ری نه زن اي آدرسایت که پیدا نه شد، خدا مهربان اس، ما یک غریب خانه داریم اونجه میریم. شوه تیرمي کنیم، سبا باز بخیر اي آدرساره میپالیم.»
د زلمي د دې خبرې په اوریدو مې ایله تر ستوني لاړې تیرې شوې، بیا یې ډریور ته و ویل چې مخامخ کوزتهکال ته ځه. موټر له حیات آباد نه د کوزتهکال په لورې روان و، خو زه له موټر نه مخکې کوز تهکال ته رسیدلی وم.
ما ځرت واهه چې دا خوسره خوله هلک دی، اوس چې مورِ کور ته بوزي او پلار یې وګوري، د مهاجرت او پردي وطن په دې سختو شرایطو کې یې زوی لس تنه نا بللي ډوډۍ خواره ور ته راوستي دي، نو یو څو ځاپیړې او ښکنځلې به ور حواله کړي او ور ته وبه وایي چې: د پلار کور دې سپیره ډاګ شه، زه تا نه شم ساتلای، تا لس تنه نور له غوږ نیولی را ته را دي وستل.
د موټر دریدا د ځرتونو له تال نه را کوز کړم. که ګورم موټر ورو، ورو ریورس راغی او شا یې یوه ګاراژ ډوله دروازې ته برابره کړه. زلمی له موټر نه کوز شو، زه هم په کوزیدو وم چې دروازه خلاصه شوه. یو سړی چې د پنځوس ـ پنځه پنځوس کلو په منګ و، را و وت. زلمي نه یې پوښتنه وکړه:
«چي ګپ اس بچیم؟»
زه پوه شوم چې پلار یې دی. زما زړه درزیده چې اوس منفي ځواب ور نه کړي. هلک ور ته و ویل:
«چیزي نیس پدر جان امي مسافرا امروز از کابل آمدن، آدرس دارن مګ رپیدا نه شد، مه خانه آوردومشان.»
سړي هلک په غیږ کې ټینګ ونیو او ور ته وې ویل:
«آفرین به شیردادن والایت بچیم که مسافراره از راه ورداشتي.»
سړی راغی ما سره یې روغبړ وکړ او پاس یوه اپارتمان ته یې وخیژولو. ښځې او ماشومان یې بله کوټه کې کینول او زه یې یو میلمستون ډوله کوټې ته رهنمایي کړم. له کیناستو سره سم یې یو څو پوښتني را نه وکړې:
څه کاره وې؟ د کوم ځای یې او...
په پوښتنو او ځوابونو کې سره پوه شوو چې تصادفاً دواړه په کابل کې د یوې سیمې اوسیدونکي یو. زه او دی د کابل په اوومه ناحیه کې اوسیدو، دی د دارالامان د واټ تر غاړې د علاوالدین په درې لاره کې اوسیده او زما پلرنی کور د همدې ځای په څو سوه متری کې موقعیت درلود، ده هم د سیمې دکانداران او مخور پیژندل او ما هم.
د مرګي دې هیر شي، زما یې اوس نوم هیر دی. دومره مې په یاد دي چې سلطاني یې تخلص کاوه په کابل کې د کوم ښوونځي ښوونکی و. ما یو څو نښې ور ته و ویلې او د څو کسانو نومونه مې ور ته یاد کړل، سړی ډاډه شو. زوی ته یې غږ وکړ:
«بچیم بره استاد او وضو تیار کو، که وخت نماز اس.»
له ډوډۍ وروسته مو بیا مرکه پسې اوږده شوه، بیا یې یوه لویه کوټه را وښودله او وې ویل نور ځای نه لرو په همدې کې تول ګزاره وکړئ.

اوس د پردي وطن ګلاب شوم
د باد څپیړې په مخ خورم، تا یادومه

د نهمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ